د گل جان صابر ژباړه ۲۰۲۲/۰۴/۰۷

بای او مزدور

د کوچنیانو لپاره کیسه

په پخوا وختونو کې یوه بېوزله کونډه وه. هغې خپل عمر خوړلی و او دری زامن یې- یارمت، شریف او الدار نوي زلمیان شوي وو او تر اوسه پورې یې هېڅ کوم کسب نه و زده کړی.
سپین سرې په سختی شپې او ورځې تېرولې. هغې به له سهار څخه تر ماښام پورې څرخی کاوه، سپنسي یې جوړول او د بازار په ورځ به یې په اوبدونکو پلورل خو له دې سره سره یې ډېر وخت په کور کې ان یوه مړی ډوډۍ هم نه پیدا کېدله.
د کونډې سترګې ضعیفې شوې، ښه یې نه شوه لیدلی او اوس یې څرخی هم نه شو کولی. هغې خپل مشر زوی، یارمت را وغوښت او هغه ته یې وویل:
- زه ړنده شوم او ته اوس نږدې زلمی شوی یې. اوس ستا وار دی چې خپلې کورنۍ ته ډوډۍ پیدا کړې. ولاړ شه چېرې کار وکړه.
سپین سرې بله ورځ سهار خپل زوی شتمن ستار بای ته ور وست او له هغه څخه یې هیله وکړه چې یارمت ور سره مزدور کړي.
کونډې ستار بای ته درناوی وکړ، خپله لکۍه یې لګوله او کور ته راغله.
بای شامت ته وویل:
- ښه، ککړه، و به ګورو چې ته څه کولی شې او څه نه. هغه شامت ته یو لوی د اوړو غلبېل ورکړ او ور ته ویې ویل:
- ولاړ شه او له سیند څخه اوبه راوړه.
یارمت په منډه سیند ته ورغی، غلبېل یې په اوبو کې غوټه کړ خو اوبه په غلبېل کې چېرې بندېږي. غلبېل یې څو پلا په اوبو کې غوټه کړ خو هغه له اوبو ډک نه شو نو ځکه تش لاس کور ته راغی.
بای یارمت ته په غوسه شو او ویې ویل:
- اوبه چېرې دي؟
یارمت وویل:
- په هغه څه کې چې تا ما ته راکړې و اوبه راوړل کېدای شي؟
- ته، ککړه، لا ما ته دلیل هم وایې؟ بای نور هم په غوسه شو، لرګی واخیست او یارمت یې له کور څخه وشړلو.
یارمت چې کله کور ته راغی او سپین سرې ته یې کیسه وکړه هغې وژړل او ویې ویل چې له شتمنو سره کله دلیل ویل کیږي. سپین سرې پرېکړه وکړه چې خپل منځوی زوی، شریف له بای سره مزدور کړي.
شریف چې کله ستار بای ته راغی د پخوا په څېر یې لکه یارمت ته د ډولچې په ځای غلبېل ورکړ او ور ته ویې ویل:
- همدا اوس په منډه له سیند څخه اوبه راوړه.
شریف سیند ته ولاړ نه شو او بای ته یې وویل:
- ته په ما ملنډې وهې که څه؟ کوم کم عقل به په غلبېل کې اوبه راوړي؟
- ښه، داسې ده ککړه، ته لا زما سره دلیل هم وایې! ستار بای په شریف د لرګي وار وکړ او هغه یې له خپل کور څخه وشړلو.

افغان جرمن آنلاین په درنښت تاسو همکارۍ ته رابولي. په دغه پته له موږ سره اړیکه ټینګه کړئ maqalat@afghan-german.de
یادونه: دلیکنې د لیکنیزې بڼې پازوالي د لیکوال په غاړه ده ، هیله من یو خپله لیکنه له رالیږلو مخکې په ځیر و لولئ

شریف چې کله کور ته راغی سپین سرې کونډې بیا هم وژړل او ډېرې اوښکې یې تویې کړې. په دې وخت کې د کونډې کشر زوی الدار وویل:
- مورې، ما ته اجازه راکړه چې ستار بای ته ورشم. موږ باید له هغه سره د ټولو هغو ښېګڼو حساب وکړو چې ده زموږ له کورنۍ سره کړې دي.
سپین سرې وویل:
- ورځه ولاړ شه، کېدای شي چې ته، الدار د نورو ورونو په پر تله بریالی وې.
الدار بای ته راغی او ستار بای سمدلاسه هغه ته وویل:
- هله ژر کوه، ککړه، همدا اوس په بیړه اوبه راوړه.
بای الدار ته غلبېل په لاس ورکړ او په ټېله کولو یې له کور څخه و ایست.
الدار ستار بای ته هېڅ و نه ویل، روان شو او په لاره کې بازار ته ور وګرزېد. په بازار کې یې له ټټار څخه یو لګن واخیست، غلبېل یې په هغه کې کېښود او ستار بای ته یې اوبه راوړې. ستار بای وویل:
- ای، ککړه، له تا څخه سړی جوړېدای شي!
الدار د ستار بای په کور کې کار پیل کړ: انګړ یې پاکاوه، څاروي یې مړول، ځمکه یې کولبه کوله، پټې یې اوبول او د شپې لخوا یې کور ساتلو. الدار شپه او ورځ کار کاوه آو آرام یې نه و. ستار بای به چې کله راغی نو شور ماشور به یې جوړ کړ او ویل به یې: «ای، ککړه،بیا هم بېکاره ناست یې!»
یوه ورځ ستار بای له خپلې مېرمنې او کوچنیانو سره کوم چېرې مېلمستیا ته ولاړ. هغه الدار په کور کې پرېښوود او په ټینګه یې ور ته وویل:
- ای، ککړه، کور به ساتې! ګوره، چې هر څه سم وي: انګړ پاک کړه او داسې یې ومینځه چې وځلېږي، د سپرلۍ آس باید له اخور څخه سر پورته نه کړی، دروازه ښه کلکه وتړه، د مېلمنو په کوټه کې باید یوه زره دوړه هم نه وي.
الدار وویل:
- ښه ده، هرڅه به داسې وکړم لکه چې و مو ویل، تاسو آرام اوسی.
ستار بای چې له خپلې کورنۍ سره له مېلمستیا راغی غوښتل یې چې دروازه خلاصه کړي خو هغه نه خلاصېدله. دروازه یې وټکوله، الدارله کټارې څخه دوی ته کتل. بای چې کله الدار ولید په غوسه یې ور ته وویل:
- ای، ککړه، دروازه ولې نه خلاصوې؟ ته نه وینې چې څوک راغلي دي؟
الدار ځواب ورکړ:
- ولې یې نه وینم. خو دروازه وروسته له دې نه خلاصېږي.
- احمقه، ته څه چټیات وایې؟ دروازه ولې نه خلاصېږي؟
- تا ویل چې دروازه داسې ټینګه وتړه چې هېڅوک د ننه را نشي. ما ځکه د دروازې شا ته د خښتو دېوال پورته کړ.
ستار بای هېڅ نه شوه کولی نو ځکه چوپ شو. هغه په کټاره را واوښت او اخ یې وکړ: ځمګه ټوله په غوړیو لړلې وه. ستار بای چې په زېرمتون کې څومره غوړې لرل الدار هغه ټول په انګړ کې تویې کړي و. ستار بای چیغه وکړه:
- دا څه وینم! یوازې لېونی کولی شي چې دومره شته له خاورو سره ګډ کړي.
- ښاغلیه، ما ستا امر په ځای کړ. تاسو وویل چې انګړ باید وځلېږي. دا دی هغه ځلېږي.
ستار بای هېڅ نه شوه کولی نو ځکه چوپ شو. هغه ناڅاپه ولیدل چې د ده د سپرلۍ د ښکلي آس سر په آخور کې پروت دي. ستار بای له ډېرې غوسې چیغه وکړه:
- دا تا څه کړي؟
- ښاغلیه، تاسو وویل چې آس باید سر له آخور څخه پورته نه کړي.
ستار بای بیا هم هېڅ نه شوه کولی نو ځکه چوپ شو.
ستار بای د مېلمنو کوټې ته ننووت او نږدې و چې له ډېرې غوسې لیونی شي: الدار د دې لپاره چې په دېوال دوړې پرېنوزي نو د دېوال نازک قېمتي لرګین حکاکي شوی پلستر یې ټول اړولی و.
ستار په ستمېدو د مېلمنو له کوټې څخه راووت، خپل سر یې په لاسونو ټینګ نیولی و او بېله دې چې الدار ته څه ووایي د کور د ښځینه وو برخې ته ننوت. بای خپلې ښځې ته ور غی او هغې ته یې وویل:
- ښځې، خبره خرابه ده، دا مزدور، ککړ بېخي لیونی دی. کالې ټول کړه، باید له دې ځای څخه وتښتو او که نه هغه به موږ هم ووژني.
هغوی د پوستکو لوی، لوی یخدانونه را خلاص کړل، خپل ټول شته یې په هغو کې واچول او بیا په پټه انګړ ته را ووتل چې ګاډۍ په آسانو پسې وتړي.
بای او مېرمنې یې ټول شیان په ګاډۍ کې بار کړل پخپله هم په ګاډۍ کې سپاره او روان شول، دوی فکر کاوه چې الدار ویده دی.
بای آسان زغلول او غوړې یې کولې:

افغان جرمن آنلاین په درنښت تاسو همکارۍ ته رابولي. په دغه پته له موږ سره اړیکه ټینګه کړئ maqalat@afghan-german.de
یادونه: دلیکنې د لیکنیزې بڼې پازوالي د لیکوال په غاړه ده ، هیله من یو خپله لیکنه له رالیږلو مخکې په ځیر و لولئ

- الدار چالاک دی خو زه تر هغه چالاک یم! بای ټوله شپه او ورځ آسان وزغلول او مازدیګر یې د شپې تېرولو لپاره د سیند په غاړه واړول. په دې وخت کې د بای ښځې په ستمېدو او اخ، اخ پیل وکړ او ویې ویل:
- کاشکې دلته مزدور وای، زه به اوس اور بلوم او خواړه به تیاروم.
په همدې وخت کې الدار د یخدان څخه را ووت او ویې ویل:
- درنو بادارانو، زه همدلته یم.
بای او د هغه مېرمن هک پک شول او پټه خوله کېناستل.
د ماښام د ډوډۍ تر خوړلو وروسته بای او د هغه مېرمنې ځانونه داسې وښوول چې ګواکې ویده دي. هغوی په نیمه شپه کې سره وویل:
- الدار، ککړ چې څرنګه ویده شو نو اوبو ته به یې ور واچوو. الدار دا هر څه واورېدل. بای او د هغه مېرمن چې څرنګه خوب یووړل نو الدار را پورته شو، د بای چپنه یې واغوستله، د هغه پټکی یې په سر کړ او په کرار یې د ستار بای مېرمن را ویښه کړه او په ټیټ غږ یې و رته وویل:
- راځه چې الدار اوبو ته ور واچوو.
د بای ښځه چې را ویښه شوه هېڅ فکر یې ونکړ، له الدار سره یې مرسته وکړه چې خپل مېړه اوبو ته ور واچوي.
د بای مېرمن چې سهار له خوبه را ویښه شوه ویې لیدل چې الدار د ګاډۍ څنګ ته اخوا، دېخوا کېږي.هغې په الدار غږ وکړ:
- ای، ککړه، ته څه بلا یې، د سیند له تل څخه را ووتلې؟ موږ خو ته اوبو ته ور اچولی وې. الدار په دې وخت کې وویل:
- تاسو، باداري، زه نه بلکه په خپلو لاسونو مو خپل مېړه، ستار بای اوبو ته ور واچاوه. ما اوس له هغه سره د ده د ټولو ښېګڼو حساب وکړ. الدار چې دا وویل مخ یې وګرزاوه او پخپله لار روان شو.

د ازبکستان د خلکو کیسه
د ګل جان صابر ژباړه

افغان جرمن آنلاین په درنښت تاسو همکارۍ ته رابولي. په دغه پته له موږ سره اړیکه ټینګه کړئ maqalat@afghan-german.de
یادونه: دلیکنې د لیکنیزې بڼې پازوالي د لیکوال په غاړه ده ، هیله من یو خپله لیکنه له رالیږلو مخکې په ځیر و لولئ